**د افغانستان بانک**

د غیر بانکی مالي مؤسساتو د څارنې لوي آمریت

د عمومي څارنې او مقرراتو معاونیت

گڼه: ۶۲۷۳

نیټه: ۱۴۴۷/۵/۱

۱۴۰۴/۸/۱

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د وړو تمویلونو د قدر وړ اتحادیې ته!**

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

**ماهیت:** متحدالمال

**موضوع:** د وړو تمویلونو لپاره د گټې لوړه (حد اکثر) اندازه!

له ډېر درناوي وروسته؛

څرنگه چې د وړو تمویلونو اصلي او اساسي موخې د هېواد په کچه، وگړو ته کار موندنې، د اقتصادي فعالیتونو وده او د بې وزلۍ (فقر) کمول دي. په دې اساس، یادو موخو او د هېواد اقتصادي حالت ته په کتو سره د افغانستان بانک لازم گڼي تر څو شته د وړو تمویلونو مجوزي مؤسسې دې خپلې گټې د ٦ څخه تر ١٦ سلنو تر منځ د محصولاتو خطرونو او عملیاتي مصارفو په پام کې نیولو سره تنظیم او تر لاسه کړي. هیڅ یوه مؤسسه نه شي کولای چې د یوه تمویل پر وړاندې د ١٦ سلنو څخه زیاته گټه ترلاسه کړي.

موضوع په پورته توگه تاسو ته د ورستیو لازمو کړنو په موخه ولیکل شوه.

د افغانستان بانک ستاسو په چارو کې د لا بریاوو غوښتونکی دی. والسلام

۱۴۴۷/۴/۲۹

صدیق الله خالد

**د افغانستان بانک لومړی مرستیال**

**کاپی:**

- د مسفا د قدر وړ ادارې ته (د معلوماتو لپاره)؛
- د کرنیز او پرمختایي صندوق د قدر وړ ادارې ته (د معلوماتو لپاره).